# ناټو« NATO »
# او
# دناټو« NATO »  پيژندنه !



دانترنيټ دفارسی سرچينوڅخه

ژباړونکی ؛ عزيزاحمد خوارمل

## ديرلسمه برخه

## ناټودروسيی ددراوزې (ورونو) وشاته !

دروسيی دفشارله کبله .دناټونظامی سازمان دشوروی ددوپخوانيوجمهوريتونو،اوکرائين اوګرجستان غړيتوب يې په دی نظامی تړون کې شاته وغورځول ،اواعلان وکړ چې داستراتيژيک لړليدله مخی دتورسند دشااوخواهيوادونو غړيتوب په دی اتحادی کې خورا ډېر مهم دی او وړانديز يې وکړ چې ددی دووهيوادونودغړيتوب پروسه اوتخنيکی چاري دی د(۲۰۰۸) م کال دپای رسيدوڅخه دمخه دغه مسئله دی رامنځته سی،اوهمدارنګه دناټومشرتابه ټينګار وکړ چې داوکرائين اودګرجستان دمشرانوسره دلويديزملاتړسته دی، اودوی تل ويلی دی چې سل په سلوکې دغه خبره تضمين سوی اوپريکړه يې کړه ده چې دا دوه هيوادونه دی دناټوغړی سي ،اودامسئله وناټواو ودی هيوادونوته يو برياليتوب دی .

په همدی ډول سره دروسيی دبهرنی چارودوزارت وياندددی دووهيوادونو پيوستون اوغړيتوب يې وناټوته «يوه استراتيژيکه تيروتنه» وبلله اوپه دی اړه يې ويلی وه چې دغه کړنه به دټول اروپاامنيت دګواښ سره مخامخ کړی .



وناټوته ددی دووهیوادونودغړیتوب شاته غورځول په داهسی یووخت کې صورت موندلی دی چې جورج ډبلیوبوش وناټوته ددی دووهیوادونودغړیتوب څخه ملاتړ کړی وو.

بوش که څه هم ونسوکولای چې په خپل پرله پسی ملاتړسره ددی دووهیوادونودغړیتوب په هکله بریالی سی ،مګر د دوونوروموضوعاتوپه اړه ،یوپه افغانستان کې دناټودځواکونو دزیاتوالی په هکله ،اوبل دناټودغړیوهیوادونوپاملرنه اوملاتړ په ختیځی اروپاکې دامریکا دراکټی دفاعی سپرڅخه هم رامنځته سو، اوبوش بریالی سو اودناټوټول (۲۶) شپږویشت غړی هیوادونه په افغانستان کې دناټود(۴۷۰۰۰) اوه څلويښت زروځواکونودپاته کیدواوددندود دوام په هکله خپل مثبت لړلیداوموافقت يې اعلان کړ .

همدارنګه دناټونظامی تړون دکراوسیا اوالبانیا نه يې هم ودی نظامی تړون ته دغړیتوب دپاره بلنه وکړه،مګردیونان هیواد دناټووتړون ته يې دمقدونيا پیوستون اوغړیتوب يې وتوکړ.

په همدی ډول دبخارست په سرمشریزه غونډه کښې دفرانسی هیواد دايې ومنل ترڅونوي ځواکونه اوسربازان وافغانستان ته ولیږی اوپه دی ډول سره يې وکولای سوترڅوهغه انګیرنه چې کاناډا دخپلوځواکونو دوتلوپه هلکه په راتلونکی کال يې درلودل هغه لیری کړی اودمنځه يې یوسی .

جیمزاپاتورای دناټوویاند دهغوهیوادونودغوښتن لیکونواوړاندیزونه په هکله چې غواړي دناټوغړي دی سي،په دی هکله وویل : په ډاډ سره کولای سم ووایم دا اوس مهال ددروهیوادونو دجملی څخه ددوو هیوادونو په هکله دناټودټولوغړیوهیوادونولړلیداوموافقه اخیستل سوی دی ترڅو ددی دووهیوادونوسره دخبراترو دپړاو څخه وروسته ددوي پیوستون پیل سي .

دناټوویاند وویل : همدارنګه دناټودغړیو هیوادونوترمنځ دلړلیدونویووالی وجودلري چې ودریم هیواد ومقدونیا ته دی هم هرڅه ژرتره دپیوستون اوغړیتوب دپاره دخبراترو وړاندیز وسي .

دا په داهسی حال کې دی چې دکرواسیا،البانیااودمقدونیاهیوادونه ډیره موده کیږی چې دشمالی اتلانتیک تړون دناټود(۲۶) غړیوهیوادونو دمشرانونه دزرغون څراغ دلاسته راوړلو په تمه اوهیله دي اوپه دی هکله زیاراوهاندباسی ترڅوددی نظامی تړون غړیتوب ترلاسه کړي ، د ناټوپه غونډه کې حاضرچاروکی او دیپلوماتان اعلان يې وکړ چې نوموړی دری هیوادونه هغه شرایط اونورمونه چې وناټوته دغړیتوب دپاره اړین اوضروری دی دغه هیوادونه هغه يې پوره کړی دی .مګر دپخوانی یوګوسلاویا دهیوادسویلی سیمه اوسنی (مقدونیا) دهیوادغړیتوب چې دیونان دهیواداعتراضونه اوګوتنیونی يې رامنځته کړی وي ددغه هیوادد رسمی نوم (مقدونیا) پرسر،له کبله ددی هیواد غړیتوب يې دیولړ ستونزواوپرابلمونوسره مخامخ کړی دی .اودیونان دولت دیوګسلاویا دپخوانی هیواد دغه جمهوریت (مقدونیا) نوم په رسمیت نه پیژنی که څه هم دمقدونیا قانونی نوم مقدونیا دی اوداهیوادغواړی چې ددی نوم سره په نړیوالواړیکوکې په رسمیت وپیژندل سی . مګردیونان دبهرنیوچاروزیرګیورګوس کـوموتساکوس وایی :په هیڅ ډول سره په دی اړه توليز لړلید وجود نلری .

په بخارست کې دناټودغونډی را وروسته دناټومشرانو دولادیمیرپوتین دروسیی دجمهور رئیس سره دنتودواړیکو درامنځته کیدوپه هیله دپوتین سره لیدنی اوکتنی وکړي،اوروسیی اعلان وکړ په هغه صورت کې که په ګرجستان کې دخلکولخوپاڅون اواخ اوډب رامنځته سي روسیه يې مخ نیوی نه کوي .

جورج بوش دامریکا جمهور رئیس هم وروسته دناټودمشرانودلیدنی اوکتنی نه دپوتین سره ولیدل اوخبراتری یې ورسره وکړ،بوش په دی کتنه کې دغه خبراتوریې دوروستنی چانس ترسرلیک لاندی دپوتین سره دنړدیوالی دپاره ونومول اودامریکا جمهور رئیس وویل ،هیله مندیم چې دعراق دجګړی راوروسته هغه اختلافونه چې ددوهیوادونوترمنځ رامنځته سویدی دیوی (استراتیژیک ) چوکات دموافقی په رامنځته کولوسره ویوی پایلی اونتیجی ته سره ورسیږی .

کرملین هم مخته دپوتین دتګ څخه وبخارست ته اعلان کړی ووچې پوتین وبخارست ته ددی لیدونواوکتنو وځای ته دیومثب لړلیدسره ورځي ترڅو دمختلفو مسائلوپه هکله دکوزوڅخه نیولی بیا دامریکا دراکیټی دفاعی سپراودراکیټی اډیو په هکله بحثونه اوخبراتري به وکړی .

د(۲۰۰۲) میلادی کال څخه را په دی خوا دالمړی ځل دی چې دناټومشران دروسیی دجمهور رئیس سره لیدنه اوکتنه کوي او دوی وایی دا به ښه فرصت وي چې دپوتین دواکداری په وخت کې،دروسیی دراتلونکی جمهور رئیس دیمتری مدودوف په دروان کې چې په راتلونکی میاشت کې پیلیږی ،ددغه لیدنی کتنی په نتیجه کې دوه اړخیزی اړیکی سره ټینک کړی .

یوشمیر دناټومشرانولاتراوسه نه سی کولای وړاندوینه وکړی چې ولادیمیر پوتین تل لویدیز په دی باندی تورن کوی چې تسلیحاتی مبارزه دوي پیل کړی دی ،اوپه په دی هکله پدی جلسی کې به څه دول دریځ دځانه وښيي ،دغه پوښتنه هم دبحث اودخبروکولو وړ دی .

# دبوش وینا دناټوپه سرمشریزه غونډه کښې درومانی په پلازمېنه بخارست کې :

دامریکا جمهوررئیس په بخارست کې دناټوپه سرمشریزه غونډه کې وویل : رومانی په خپل مرستو سره ډېر رول یې دناټودغړیو هیوادونواودهغودمتحدینوسره لوبولی دی .

جورج بوش په دی هکله یې زیاته کړه ؛دامریکا خلک ویاړی چې درومانی هیواد خپل یودوست هم ترونه او دسولی دموخو اوهیلووړسیدلوته یوښه ملګری ونوموی ، بوش وویل ناټوباید ددی نظامی ترون دپراختیا دپاره اودبالکان دحوزی اوسیمی د دریوهیوادونولکه کرواسیا ،البانیا اومقدونیا دپیوستون اوغړیتوب دپاره ودی نظامی تړون ته مهمی پریکړی رامنځته کړی اوخپل ملاتړدی اعلان کړی ،بوش په همدی ډول سره وویل: دامریکا هیواد وناټوته ددی دریوهیوادونودپیوستون اودغړیتوب څخه په تینګه سره ملاتړکوي،بوش وویل ناټوهمدارنګه داوکرائین اوګرجستان دغوښتن لیک په اړه چې دناټوونظامی سازمان ته دپیوستون اوغړیتوب دپاره وړاندیزیي کړید ی ،ناټودی هم پدی هکله خپله پریکړه وکړی، بوش همدارنګه وویل په افغانستان کې دناټوماموریت یوخطرناکه ماموریت دناټوپه پیښ لیک دی ،ده بیا وویل په عراق کې پرمختګ وینو اوپه دی هیوادکې بدلون رامنځته سویدی .

بوش دروسیی اوناټوترمنځ د«بی سابقی مرستوسطح » یې دپخوانی شوروی دنظامی اډیودیوه ټوټه اویوه پارچه کیدوله طریقه داروپا دراکیټی دفاعی سپر دځای پرځای کولوغوښتنه یې وکړ. جورج بوش وویل همدارنګه په اروپا کې دراکیټی دفاعی سپرپه ځای پرځای کیدلوباندی باورمند دی اودروسیی دجمهور رئیس ولادیمیرپوتین څخه غوښتنه به وکړی چې خپل داعتراض څخه ددی طرحی په هکله لاس واخلی ،بوش په همدی ډول سره وویل هیله مند دی چې دپوتین سره دیوشمیر طرحوپه اړه چې روسیه یې موخه ندی مرسته ورسره وکړی .

بوش زیاته کړه دپوتین سره ددی اونی په کتنه کې دغه موضوع دده په اطلاع ور رسوی .

بوش همدارنګه وویل په اروپاکې دفاعی راکیټی سپر دمنځنی ختیځ له لوری دکیدونکوګواښونودپاره اړین دی .جورج بوش په ناټوکې دخپل ملګروهیوادونوڅخه وغوښتل چې وافغانستان ته دی نورډېرځواکونه ولیږی اوپه دی هیواد کې دماموریت اوددندو ترسره کول و خپل لومړنی اصلی موضوعاتوته یې ور واړه وي .

# دناټودپراختیا سره دامریکا دسیاست پوهانومخالفت :



دامریکا نامتواومخور دیپلوماتان او سیاست پوهان دبوش دسیاستونوسره دناټوپرپراختیا باندی دپخوانی شوروی اتحاد دجمهوریتونوپرلور مخالفت وکړ.

هنری کیسینجر او جورج شولتز دامریکا دبهرنیوچاروپخوانی وزیرانو د واشینګټن پوست دورځپانی په یوی مقالی کې د شمالی اتلانتیک تړون ونظامی سازمان ته یې وړاندیز کړی دی چې داوکرائین اودګرجستان ددی دووهیووادونو دغړیتوب مسئله دی دامریکا دنوي جمهور رئیس ترراتګه پوری دی وځنډه ول سي اوداوس مهال دی ددی مسئلی څخه لاس واخلي .

دغو امریکایی سیاست پوهانولیکلی دي :« موږپه دی باور یو چې داوکرائین اوګرجستان امنیت دی په یوه پراخه چوکاټ کې نه یوازی په یومکانیکی خوځښت اوحرکت سره، اودناټوپراختیا دروسیی دپلواو(سرحداتو) پرلوردی ترخیړنی اومطالعی لاندی ونیول سی» دوي څرګنده کړی ده : «ناټوهمدا اوس داوکرائین اودګرجستان پراصلی غړیتوب باندی موافقه یې کړی ده، په داهسی حال کې اړین خودا دی چې ددی امردپرځای کولودپاره دامریکا دمتحده ایالاتونودنوی دولت ترجوړیدواورامنځته کیدوپوری دټولو کیدونکی امکاناتوسره دی شاته وغورځول سی ،دامسئله به نه یوپرشا تګ وي بلکی یومسئولانه لړلید به داوسنیو پروسی اودراتلونکی تحولاتوپه اړه ګټل کیدی سي » .

هنری کیسینجر او جورج شولتزپه دی باور دي او وایي :سربیره پر دا وروستی کړکیچ باندی چې په ګرجستان کې رامنځته سوی دی ، نن ترنورووختونوډېرتره دامریکا ،اروپا اودروسیی اقتصادی ګټی یوپربل منطبیق اویوشانته دي نونباید داهسی کړنه ترسره کړو ترڅوچې دغه امکانات دلاسه ولاړسي ./

(نوربیا،په ځلوارلسمه برخه کې ادامه لري) **اخیځلیک :ـ دقطره نیوز ،اونووستی څخه**